# د بین الافغاني خبرو بیا پیل او د سولې راتلونکی

## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز - کابل

تحلیل CSRS | شماره: ٣٦٦

11 حوت ١٣٩٩ هـ ش /2021 01 March


ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

# د بین الافغاني خبرو بیا پیل او د سولې راتلونکی



که څه هم له لومړي پیل څخه بین الافغاني خبرې اترې چټکې پیل نه شوې او په ډېر څنډ سره یې هیله دومره وکړای شول چې د راتلونکو ناستو اجنډا ترتیب کړي، خو کله چې په امریکا کې د ټاکنو پایلې د بایډن په ګټه اعلان شوې او ډیموکراټانو ټاکنې وګټلې، دغو پایلو په افغان سوله هم مستقیم اغېز درلود او هغه دا چې ټول منتظر وو چې د امریکا د نوي حکومت پالیسي به د افغان سولې په اړه څه وي، د امریکا نوي حکومت اعلان وکړ چې له طالبانو سره به د دوحې تړون بیا ارزوي او کتنه به پرې کوي. یاد اعلان په دې معنا وو چې کېدای شي تړون له ننګونو سره مخامخ شي. په امریکا کې د بدلون له راتګ سره طالبان له خبرو شا ته شول او یو شمېر هېوادونو ته یې سفرونه وکړل، دا په داسې حال کې وو چې د افغان حکومت د سولې پلاوی په قطر کې وو.

## د دوحې تړون او د امریکا نوی حکومت

داسې برېښي چې د دوحې د تړون او د افغانستان د قضیې په اړه د امریکا په پالیسۍ کې کوم ستر بدلون نه دی راغلی، په ځینو ټکو به یې بیا غور وشي، چې یو هم د بهرنیو سرتېرو د وتلو نېټه ده چې د دوحې د تړون له مخې باید د مۍ په میاشت کې له افغانستان څخه ووځي. امریکایانو ویلي چې د سرتېرو په ایستلو به بیا غور کوي او له ټاکلي مهال وېش سره به خپل پوځونه ونه باسي او زیاتوي چې په ټاکلې نېټه د سرتېرو وتل به په افغانستان کې ستونزې را پیدا کړي. داسې معلومېږي چې تر یو کال لږې مودې پورې به د خارجي سرتېرو د پاتې کېدو نېټه غځېږي او طالبان به یې هم ورسره مني.

له بلې خوا د ناټو غړو هېوادونو هم د افغانستان په اړه پرېکړه ونه کړه او خپل تصمیم یې په حالاتو پورې تړلی وباله او امریکایانو هم خپلو متحدینو ته ډاډ ورکړ چې له دوی سره په مشوره به فیصله کوي، د ناټو د غړو هېوادونو موقف هم له امریکا سره تړلی دی او له امریکا سره به په ګډه د افغانستان په اړه ګام اوچتوي او په دې وروستیو کې د امریکا د نوي حکومت د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو په ډاګه وویل چې د افغانستان د کشالې د حل لپاره سوله ییزو او سیاسي حللارو ته ژمن دي او دا ستونزه به د خبرو له لارې حل کېږي.

که څه هم د امریکا له ټاکنو وروسته کافي وخت تېر شوی، خو په دوحه کې د افغان سولې له پیل شوي بهیر څخه څه ډول چې تمه کېده، هغسې پایلې نه لري او داسې ښکاري چې هم حکومت او هم طالبان وخت ضایع کوي او دا بهیر نمایشي دی.

## له سیاسي څېرو سره د ولسمشر وروستۍ لیدنې

جمهور رئیس غني هم له تېرو څو ورځو را په دې خوا په ارګ کې له مطرح سیاسي څېرو سره لیدنې پیل کړې او داسې ویل کېږي چې په لنډ وخت کې به د مطرح سیاسي شخصیتونو په ګډون په کابل کې غونډه را وبلل شي او افغان حکومت د جمهوریت تر چتر لاندې د یوه ایتلاف د جوړېدو لپاره هڅې ګړندۍ کړې دي.

## سوله قرباني ته اړتیا لري

د افغانستان د اوږدې غمېزې پای ته رسول له دواړو لوریو څخه قرباني غواړي، که طالبان د حالاتو بدلون ته منتظر پاتې شي او د واک د زیاتې برخې د تر لاسه کولو په هڅه کې و اوسي او نور ټول لوري له پامه وغورځوي، نو د کوم ګټور حل ځرکونه نه تر سترګو کېږي، همدارنګه که افغان حکومت هم د خپلې دورې تر بشپړولو پورې په یوه او بله بهانه له سوله ییز جوړ جاړي څخه د ځنګ ته کېدو تلاش وکړي، بیا به هم متأسفانه موږ د یوه سوله ییز حل شاهدان و نه اوسو، نو دواړو لوریو ته په کار ده چې له ایثار څخه کار واخلي او په ملت زړه وسوزوي، په خپلو دریځونو کې نرمښت راولي او نور په وینو او اور کې د دې درد ېدلي ملت ژوند ته د پای ټکی کېږدي. په کار ده چې داخلي اړخونه هم له پامه ونه غورځول شي او که چېرې داخلي جهتونه ځنګ ته کړل شي او د واک د ډېرې برخې یوه لوري ته ورکولو هڅه وشي، نو انارشۍ ته لار پرانیستل کېږي او د کورنیو جګړو د پیښېدو خطر لیدل کېږي.

## جګړه د هېچا په ګټه نه ده

په دې خونړۍ جګړه کې هره ورځ په لسګونو انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي او د مرموزو لاسونو لخوا افغان کادرونه، علماء، مدني فعالان او ژورنالیستان تر هدفي بریدونو لاندې راځي او وژل کېږي، نور د افغانانو زغم پای ته رسېدلی دی او د سولې خبرو له اوږدېدو سره افغانان یو ډول مایوسه او ناهیلي شوي دي.
که څه هم اوس ټول په دې ټکي اتفاق لري چې د افغان جګړې د حل یوازینۍ لار سوله ده او په کار ده چې د خبرو اترو له لارې دې کشالې ته حللاره وموندل شي، خو یوې خوا ته افغان حکومت د خپل واک د غځېدو په هڅه کې دی او بل خوا طالبان بیا د واک د زیاتې برخې د ترلاسه کولو لپاره انتظار کوي او په دوحه کې د سولې روان بهیر هسې د خلکو په سترګو کې د خاورو اچول دي.
په دوحه کې د بین الافغاني خبرو له پیل څخه داسې کومه هیله نه وه چې یوې پایلې ته دې ورسېږي، له پیل څخه داسې اټکل کېده که چېرې د بهرنیانو فشارونه په دواړو خواوو نه وي، د حل کوم ځرک نه لیدل کېږي اوس دادي له اوږدې مودې وروسته هماغسې ښکاري او داسې اټکل کېږي چې په قطر کې روانې بین الافغاني

خبرې به کومه پایله ونه لري او د بن د کنفرانس په څېر د یوه بل کنفرانس د جوړېدو نخښې او نښانې ښکاره کېږي.

په هر صورت که د بن په څېر کنفرانس را غوښتل کېږي او یا هم هغه ته ورته کوم بل پروګرام جوړېږي، خو خبره باید د جګړې له ډګر څخه د خبرو او سیاسي جوړ جاړي میز ته یوړل شي. په جګړې سره هېڅ لوری نه شي کولای خپلو موخو ته ورسېږي او په جګړه ټینګار د هېچا په ګټه نه دی او نه هم د کوم لوري په حذفولو سره مشکل حل کېدای شي، که خبره له سوله ییز حل څخه بلې خوا ته ځي، بیا یې هم تر ټولو ستر زیان افغانانو ته رسېږي او بله دا چې او سمهال کوم د سولې او جوړ جاړي فرصت را منځ ته شوی، د داسې چانس بیا را منځ ته کېدل به له امکان څخه لرې وي.

# آتش سوزی در گمرک مرزی اسلام قلعه؛ عوامل و پیامد ها



روز شنبه ۲۵ دلو ۱۳۹۹ هـ.ش انفجار یک تانکر حامل مواد سوخت در گذرگاه مرزی میان اسلام قلعه افغانستان و دوغان ایران سبب بروز آتش سوزی بزرگ و انفجار مهیبی گردید، که به نابودی حدود ۵۰۰ موتر بزرگ حمل نقل و تانکر های حامل مواد سوخت انجامید و خساراتی بالغ بر صد ها میلیون دالر به بار آورد. این آتش سوزی ساعت ها ادامه یافت، که و زیان های مالی و جانی در پی داشت مسؤولان گفته اند که ۱۷ تن زخمی شده اند، برای مهار آتش کشورهمسایه ایران نیز ازطریق هوا و زمین کمک های خود را شریک نمود، مقامات محلی ولایت هرات در نخستین ساعات این آتش سوزی اعلام کردند که امکانات مورد نیاز برای مهار این آتش سوزی در این ولایت وجود ندارد. گذرگاه اسلام قلعه در حدود ۱۲۰ کلیومتر غرب هرات واقع شده و یک مسیر اصلی ترانزیتی بین افغانستان و ایران است.

## گستردگی حادثه

اتاق تجارت افغانستان می گوید: خسارات ناشی از این رویداد به تاجران به مراتب بیشتر از آنچه در اوایل گزارش داده شد میباشد. خان جان الکوزی، از مسؤلان اتاق تجارت و سرمایه گذاری کشور گفت که صدها میلیون دالر کالای تجاران افغان در آتش سوزی گمرک اسلام قلعه نابود و یک هزار موتر در آتش سوخته است. آقای الکوزی همچنان به تاریخ ۳۰ دلو روز پنج شنبه در یک نشست خبری در ولایت هرات بیان نمود که آتش سوزی در اسلام

قلعه  باعث گردید که ۲۵ درصد اجناس به خصوص مواد سوخت در سراسر افغانستان گرانتر شود، در کنار آن خساره را که بخش خصوصی با این آتش سوزی مقابل شده اند، بیشتر از حد تصور میباشد.[1]

مقام های محلی ولایت هرات در نخستین ساعات این آتش سوزی اعلام کردند که امکانات مورد نیاز برای مهار این آتش سوزی در این ولایت وجود ندارد و به همین دلیل خواستار کمک از ایران شده اند.

یونس قاضی زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایه گذاری هرات این حادثه را یک "سونامی" یاد کرد و در سخنرانی خود بیان کرد که دولت موضوع اسلام قلعه را بصورت سطحی محاسبه نمود در حالیکه در چند ماه آینده حکومت افغانستان از خرابی هایی که این آتش سوزی بر پا کرده به صورت دقیق خواهد فهمید، به گفته او کسانی که اموال و موتر های شان در آتش سوخت، سال ها زحمت کشیده بودند تا قادر به پیدا کردن آن شدند.[2]

ریس جمهوری اسلامی افغانستان هیئت همه شمول به رهبری معین عواید و گمرکات وزارت مالیه، عضویت معین وزارت صنعت و تجارت، معاون ادارهٔ لوی حارنوالی، ریس اتاق تجارت و سرمایه گذاری، نمایندهٔ دفتر شورای امنیت ملی ، نماینده ریاست عمومی امنیت ملی، نمایندهٔ وزارت امور داخله، رئیس اتاق صنعتکاران، رئیس عمومی گمرکات، رئیس اتحادیهٔ ترانسپورت و والی هرات مؤظف ساخته است تا در مورد چگونگی وقوع حادثه، ارزیابی خسارات آن تحقیق نموده راپور شان را به مقام ریاست دولت تقدیم نمایند[3].

## عوامل وقوع آتش سوزی

ریاست اتاق تجارت و سرمایه گذاری هرات طی گزارشی، عوامل عمده وقوع حادثهء آتش سوزی را طور ذیل معرفی میکند:

1 - نبود خطوط متفاوت برای اموال سریع الفساد، نفت، گاز و سایر اموال و موتر های حامل مسافرین.
2 - اعتصاب موتر داران به علت اخذ محصول ترانسپورتی در داخل گمرک اسلام قلعه.

[1] https://www.google.com/amps/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-5612965.amp
[2] https://www.bbc.com/persian/afghanistan-56053620

[3] https://mof.gov.af/index.php/dr/%D8%A7%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%85%DB%8C%DB%80-%D9%88%D8%B2%D8%A7%D8%B1%D8%AA-%D9%85%D8%A7%D9%84%DB%8C%DB%80-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1%DB%8C-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%DB%8C-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-

3 - مشکلات تخنیکی در فعالیت ترازو های دیجتلی.

4 - عدم موجود تسهیلات و تدابیر پیشگیرانه از حوادث چون آتش سوزی.

5 - آمدن هیئت ها در هر ماه و هرهفته جهت بررسی امور ولایت گمرک که متاسفانه هیچ نوع نتیجه و مؤثریت بخاطر بهبود امور در قبال نداشته است.

6 - کندکاری ونبود پرسونل ورزیده و آگاه در اداره TCRC، به دلیل مشکلات که در این اداره موجود است یک تانکر الی ۲۰ روز هم در صحن گمرک متوقف میگردد.

7 - نبود ظرفیت کاری و مجهز نبودن گمرک اسلام قلعه با وسایل و تجهیزات برای ارایه خدمات گمرکی.

یونس قاضی زاده، رئیس اتاق تجارت و سرمایگذاری هرات میگوید: عامل عمده وقوع این حادثه در قدم اول اجرای طرز العمل جدید توسط وزارت ترانسپورت بوده که تانکر ها و موتر های بزرگ حامل بار را به مدت دو هفته در گمرک نگهداشته است.[4]

## خسارات وارده:

سخنگوی ریاست صحت عامه ولایت هرات می گوید که در این رویداد ۱۷ تن زخم برداشته اند، به نقل از مسئولان اتاق تجارت و صنایع و بندر اسلام قلعه در هرات، در این آتش سوزی در حدود ۵۰۰ تانکر نفت و گاز بصورت مهیب سوخته اند و بر بنیاد بررسی های ابتدایی، ۵۰۰ میلیون دالر خساره به بازرگانان وارد شده است، در میان این ها حدود ۹۰ تانکر مواد سوختی در اثر شدت انفجار حین حریق ناپدید شده تقربیا ۴۳۵ موتر حامل اقلام مختلف النوع شامل تایر، پرزه جات موتر و موتر سایکل، تکه، مواد ساختمانی، مواد خوراکی و میوه جات تازه بوده که مبالغ هنگفتی را احتوا می نماید، حریق شده است اما بازهم نیاز به تحقیق بیشتر در مورد می باشد.

همچنان قابل یادآوری است، که مقدار اموال تجارتی متأسفانه توسط اشخاص نامعلوم در داخل گمرک اسلام قلعه حین آتش سوزی و یک تعداد در مسیر شاهراه اسلام قلعه ، زمان برگشت به طرف شهر هرات غارت شده و یکتعداد

[4] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-56059288.amp

موتر ها همراه با اموال آن لاردک می باشد و طی تماس های تیلفونی اشخاص مجهول الهویه از یک تعداد تاجران بخاطر تحویل دهی اموال شان پول تقاضا می نمایند.

از این نظر می تواند، گفت حدود ۵۰۰ موتر بزرگ در مکان حادثه حریق شده اند و صدها موتر بزرگ دیگر حامل حمل نقل مواد به گونه های دیگر خساره مند گردیده اند.

سید عبدالواحد قتالی، والی هرات که برای بازدید از محل رویداد به بندر مرزی اسلام قلعه رفته بود، با ابراز تاسف از این رویداد می گوید:«خسارات هنگفت و بیش از حد به سکتور خصوصی و تآسیسات دولتی ما وارد شد، از وسایط باقی مانده، ما توانستیم ۱۵۰۰ واسطه نقلیه را به کشور همسایه داخل کنیم، ۵۰۰ واسطه را در عقب مرز خود مصون بسازیم و حدود ۴۰۰ واسطه نقلیه را به سوی هرات بفرستیم[5].»

وقوع آتش سوزی مدهش ، تخریب و خسارات هنگفت به سکتور خصوصی (موتر دار و وارد کننده)، سکتور دولتی، مردم عامه و امور بازار رسانیده است. آتش سوزی در گمرک مرزی هرات و همچنین اعتصاب شرکت های حمل نقل در سراسر افغانستان باعث افزایش قیمت های مواد سوخت در ولایات مختلف به شمول کابل گردیده است.



(ویرانی گسترده در محل آتش سوزی در مرز ایران و افغانستان)

[5] https://www.google.com/amp/s/amp.dw.com/fa-af/%25D8%25A2%25D8%25AA%25D8%25B4-%25D8%25B3%25D9%2588%25D8%25B2%25DB%258C-%25D8%25A7%25D8%25B3%25D9%2584%25D8%25A7%25D9%2585-%25D9%2582%25D9%2584%25D8%25B9%25D9%2587-%25DB%25B5%25DB%25B0-%25D9%2585%25DB%258C%25D9%2584%25DB%258C%25D9%2588%25D9%2586-%25D8%25AF%25D8%25A7%25D9%2584%25D8%25B1-%25D8%25B2%25DB%258C%25D8%25A7%25D9%2586-%25D9%2588-

آژانس آسوشیتد پرس (Associated Press) روز سه شنبه ۱۶ فبروی ۲۰۲۱م مطابق ۲۸ دلو ۱۱۳۹۹هـ.ش برخی تصاویر ماهواره ای از مناطق آسیب دیده را منتشر کرد، در این تصاویر سوخته صدها تانکر سوخت و گاز طبیعی در سمت مرز افغانستان و لکه های سیاه روی زمین دیده می شوند.[6]

به طور معمول، صدها نفتکش هنگام عبور از مرز بین دو کشور در این مکان صف می کشند و در روز حادثه نیز بیش از ۲۵۰۰ موتر های بزرگ در این منطقه موجود بوده، این در حالی میباشد که منطقه گمرک به صورت همزمان تنها برای جابجایی حدود ۷۰۰ تانکر گنجایش دارد.

سکتور خصوصی در نشست های مختلف و گزارشات شان به وزارت های مربوطه ادعا دارند که برای شان باید جبران خساره شوند.

## هیأت بررسی کننده مجلس نماینده گان:

اعضای هیأت بررسی کننده، حقیقت یاب مجلس نماینده گان و اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان که برای بررسی آتش سوزی به هرات اعزام گردیده اند، در یک نشست خبری بیان می نمایند که عمدی بودن این حادثه دور از احتمال نمی باشد، بررسی ها در این مورد جریان دارد. در آخرین گزارش ها در پیوند به این حادثه ۹ تن به شمول کارمندان مؤظف در گمرک اسلام قلعه مسوؤل این آتش سوزی شناخته شده، و بازداشت شده اند.

## تدابیر بخاطر جلوگیری از حادثات مشابه:

با در نظرداشت حادثهء آتش سوزی اخیر در گمرک اسلام قلعه هرات ایجاب میکند، که تدابیر پیش گیرانه و احتیاطی برای جلوگیری از همچو حادثات در سایر گمرکات در آینده در نظر گرفته شود، قسمیکه نبود امکانات کافی برای اطفائیه حریق، عدم رعایت فاصله منطقی بین موتر های بزرگ و تانکر های حامل سوخت باعث شد حادثه آتش سوزی گسترده رخ دهد و سرمایه بسیاری از تجار افغانی و ایرانی در آتش بی توجهی مسوولان بسوزد.

تمام گمرک ها به شمول گمرک اسلام قلعه هرات با مشکل کمبود امکانات در تخلیه، بارگیری، طی مراحل گمرکی، ترخیص اموال و همچنان کمبود سهولت های زیر بنای گمرکات مواجه میباشند.

[6] https://www.google.com/amp/s/per.euronews.com/amp/2021/02/16/satellite-image-show-

خدا کند حادثه اتفاق افتاده با ضرر کمر شکن برای اقتصاد کشور و سرمایه گذاران درس عبرتی باشد برای جهت های مربوطه، تا توجه بیشتری در ارایه خدمات و توسعه تجهیزات گمرکی داشته باشند، چون یکی از قوه های رشد و توسعه اقتصاد کشور فعال بودن مرزهای تجاری و سرمایه گذاری کشور میباشد. سکتور خصوصی که از جمله محرک های اساسی چرخ اقتصادی کشور میباشند از اثر این حادثه بی نهایت متضرر گردیده اند دیگر ادامه برای آنها مشکل و حتی ناممکن خواهد بود بناء پیشنهاد میگردد بعد از تثبیت خسارات وارده شرکت ها برای آنها جبران خساره پرداخت گردد این امر باعث میگردد که سکتور خصوصی یکبار دیگر فعال گردد و نسبت به امور تجارت وطن دلبستگی پیدا نمایند.

در کنار آن تلاش به این صورت گیرد که، کمیتهٔ خطر سنجی حوادث غیر مترقبه با اشتراک ادارات مربوطه تشکیل گردد تا بصورت مشترک اوضاع موجود در گمرکات مورد تحلیل قرار گرفته و به مقام عالی رسانیده شود و پیگیری از اقدامات عملی آن صورت گیرد.

بدون شک این حادثه هولناک در کنار خسارات وارده بر تاجران، بیکاری و فشار های اقتصادی برای مردم در پی خواهد داشت، اما آنچه که همه در آن اتفاق دارند دامنه فساد گسترده در ادارات مختلف میباشد که نه تنها سبب کندکاری کار در امور میگردد بل حوادث مهیب چون گمرک اسلام قلعه را در پی خواهد داشت.

برای جلوگیری از تکرار چنین حوادث، قبل از همه نیاز است تا با فساد اداری مبارزهء جدی صورت گرفته و کار به اهل آن سپرده شود.

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غيرانتفاعي، غيرحکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تاسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده، چې د نويو څېړنو او پاليسيو ترمنځ داسې ارتباط قايم شي، چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړو اکاډميکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com